PS



# «زه د ډوبلین پروسیژر کې یم – دا څه معنی لري؟»

ب

د ډوبلین کړنلاره – د هغه کسانو لپاره چې د ډوبلین په هیوادونو کې د نړیوال حمایت غوښتونکي وي، لاندې معلومات د اروپايي ټولنې (EU) د 604/2013 شمیرې مقرراتو په اساس په ډوبلین کړنلاره کې وړاندې کیږي


دا رسـاله د دې لپـاره درکـول شـوې ده چـې تاسـو پـه دې هیـواد کـې د ډوبلیـن پـه بـل کـوم هیـواد کـې د نړیـوال حمایـت (پنـاه) غوښـتنه کـړې، او د دې هیـواد چارواکـي د ځینـې دلایلـو لـه مخـې فکـر کـوي چـې ممکـن بـل کـوم هیـواد ستاسـو د درخواسـت د معاینـې کولـو مسـول وي.

مونـږ د داسـې پروسـې لـه لارې چـې د اروپایـي ټولنـې د قانـون د ‹ډوبلیـن مقرراتـو› پـه اسـاس چمتـو شـوې ده، معلومـوو چـې کـوم هیـواد ستاسـو د درخواسـت د بـررسي کولـو مسـولیت پـه غـاړه واخـلي. دا پروسـه ‹د ډوبلیـن کړنـلاره› نومیـږي. دا رسـاله د نومـوړي پروسـې پـه اړه ډیـرو معمولـو پوښـتنو تـه ځـواب وایـي.

کـه چیرتـه د دې لیکنـې پـه کومـه برخـه نـه پوهیـږئ، نـو مهربـاني وکـړئ د چارواکـو سره یـې شریکـه کـړئ.

دا رسـاله یـوازې د معلوماتـو پـه موخـه جـوړه شـوې ده. دا هڅـه کـوي هغـو کسـانو تـه چـې د نړیـوال حمایـت غوښـته کـوي د ډبلیـن د کړنـلارې پـه اسـاس اړونـد معلومات وړانـدې کـړي. دا هیـڅ ډول حقوقي یـا قانـوني مسـولیت نـه لـري. د ډبلیـن پـه کړنـلاره کـې د دولتونـو او افـرادو حقونـه او مسـولیتونه هغـه څـه دي چـې د اروپایي اتحادیـې (EU) پـه 604/2013 مقـرره کـې راغـلي دي.

© د اروپا اتحادیه 2014
بیاتولیـد یـې مجـوز دی. د هـرډول کاروونـې یـا انفـرادي عکـس (کاپـي) تولیـد لپـاره اجـازه بایـد د کاپـي حـق لرونکـو لخـوا پـه مسـتقیم لیکلـې بڼـه واخیسـتل شي.




د ډوبلين مقرره په يوه جغرافيوي سيمه کې عملي کيږي، چې 28 هيوادونه پکې شامل دي. ‹د ډوبلين هيوادونه› دا دي: (استريا(AT)، ايټاليا(IT)، انګلستان(UK)، استونيا(EE)، آيرلينډ(IE)، بلجيم(BE)، بلغاريا(BG)، پولينډ(PL)، پرتګال(PT)، جرمني(DE)، چک جمهوريت(CZ)، دنمارک(DK)، رومانيا(RO)، سلواکيا(SK)، سلوانيا(SI)، سويډن(SE)، فينلينډ(FI)، فرانسه(FR)، قبرس(CY)، کرواسيا(HR)، لوکزامبورګ(LX)، لتويا(LV)، ليتوانيا(LT)، مالتا(MT)، نيدرلنډز(NL)، هسپانيا(ES)، هنګري(HU)، يونان(EL) )، او په بيله بيا د ډبلين مقرراتو 4 "اتحادي هيوادونه" شامل دي (ايسلنډ(IS)، سويټيزرلنډ(CH)، ليختن اشتاين(LI) او نارو(NO)).

# ولې زما په اړه د ډوبلین کړنلاره عملي کیږي؟

د ډوبلین مقرره په یوه جغرافیوي سیمه کې عملي کیږي، چې32 هیوادونه پکې شامل دي. ‹**د ډوبلین هیوادونه› دا دي**: (استریا(AT)، ایټالیا(IT)، انګلستان(UK)، استونیا(EE)، آیرلینډ(IE)، بلجیم(BE)، بلغاریا(BG)، پولینډ(PL)، پرتګال(PT)، جرمني(DE)، چک جمهوریت(CZ)، دنمارک(DK)، رومانیا(RO)، سلواکیا(SK)، سلوانیا(SI)، سویډن(SE)، فینلینډ(FI)، فرانسه(FR)، قبرس(CY)، کرواسیا(HR)، لوکزامبورګ(LX)، لتویا(LV)، لیتوانیا(LT)، مالتا(MT)، نیدرلنډز(NL)، هسپانیا(ES)، هنګري(HU)، یونان(EL) )، او په بیله بیا د ډبلین مقرراتو 4 "اتحادي هیوادونه" شامل دي (ایسلند(IS)، سویټیزرلنډ(CH)، لیختن اشتاین(LI) او ناروی(NO)).

د ډوبلین کړنلاره معلوموي چې کوم هیواد ستاسو د پناه غوښتنې د قضیې د سپړلو مسولیت په غاړه لري. د دې خبرې معنا دا ده چې کیدای شي د پناهندګی د قضیې د سپړلو لپاره مو یو بل هیواد ته واستول شی.

د ډوبلین کړنلاره دوې موخې لري:

- دا خبره یقیني کول چې ستاسو د پناهندګی قضیه د هغه هیواد چارواکو ته سپارل کیږي چې د سپړلو مسولیت یې لري؛
- دا خبره یقیني کړي چې تاسو په ډوبلین هیوادونو کې د خپلې استوګنې د غزولو لپاره په ګڼو هیوادونو کې د پناهندګی درخواست نه دی ورکړی.

تر څو چې د قضیې د سپړلو مسول هیواد نه وي ټاکل شوی، د دې هیواد چارواکي ستاسو د درخواست تفصیلاتو ته پام نه کوي.

**په یاد ولرئ**: تاسو نشئ کولی د ډوبلین کوم بل هیواد ته لاړ شئ. که چیرته د ډوبلین بل هیواد ته ځی بیرته دې هیواد ته یا هم هغه ځای ته استول کیږی چې لومړی مو د پناهندګی غوښتنه کړې وي. خپل درخواست دلته خوشې کول او تلل، ستاسو د پناهندګی قضیې د سپړلو مسول هیواد نه بدلوي. د ځان پټولو یا تیښتې په صورت کې د توقیف له خطر سره هم مخ کیږی.




©European Union

که چیرته وړاندې له دې د ډوبلین په کوم هیواد کې مو وخت تیر کړی وي، او بیا مو د ډوبلین هیوادونو سیمه پریښې وي باید مونږ ته وواياست. دا خبره ځکه مهمه ده چې ستاسو د قضیې د سپړلو مسول هیواد په ټاکلو کې مرسته کوي. کیدای شي له تاسو غوښتنه وشي د ډوبلین له سیمې څخه بهر د ژوند کولو په اړه شواهد وړاندې کړئ، لکه، ستاسو په پاسپورټ ټاپه،

د بیرته گرځیدنې یا لرې کولو تصمیم یا هم داسې رسمي پاڼې چې د ډوبلین د هیوادونو څخه د باندې د ژوند یا کار کولو ښکارندوی کوي.

## زه باید کوم معلومات چارواکو ته چمتو کړم؟ او څنګه یې چارواکو ته توضیح ورکړم؟

د دې لپاره چې ستاسو د پناهندګۍ قضیې د سپړلو مسول هیواد وټاکل شي، کیدای شي له تاسو سره مرکه وکړو. په دې مرکه کې لومړی ‹د ډوبلین کړنلاره› تشریح کیږي. که چیرته د ډوبلین په هیوادونو کې مو کوم خپلوان یا د کورنۍ غړي اوسیږي، مونږ ته یې ووایئ، همدارنګه هر ډول معلومات (د اړوندو معلوماتو تفصیل په لاندې کرښو کې تشریح شوي دي) چې فکر کوئ د مسول هیواد په ټاکلو کې مرسته کوي، مونږ ته یې چمتو کړئ. همدارنګه د دې معلوماتو په اړه که کوم اسناد یا پاڼې لرئ، مونږ ته یې وسپارئ.

**مهرباني وکړئ هر ډول معلومات چې د مسول هیواد په ټاکلو کې مرسته کوي، مونږ ته چمتو کړئ.**

مرکه به په داسې ژبه وي چې تاسو پرې پوهیږئ یا تریوه حده پرې پوهیږئ او د خبرې کولو وړتیا پکې لرئ.

که چیرته د مرکې په ژبه نه پوهیږۍ کولی شی د ژباړونکی د استخدام غوښتنه وکړی. ژباړونکی یوازې ستاسې او د مرکه کونکي خبرې ژباړي. ژباړونکی حق نلري چې په مرکه کې خپلې شخصي خبرې وکړي. که چیرته د ژباړونکي په خبرو سم نه پوهیږی باید له مونږ او/یا خپل وکیل سره یې شریک کړی.

مرکه پټه ساتل کیږي. په دې معنا چې په مرکې کې ویل شوي معلومات د پناه غوښتنې د درخواست په شمول ستاسو د اصلي هیواد وګړو یا هغو چارواکو ته چې کیدای شي تاسې یا هم د کورنۍ هغو غړو ته مو زیان ورسوي چې لا په وطن کې اوسیږي، نه ویل کیږي.

یوازې په هغه صورت کې د مرکې فرصت نه درکول کیږي، چې اړوند معلومات مو په کومه بله لاره چارواکو ته سپارلی وي، ورستو له هغې چې تاسو ته د ډوبلین د کړنلارې او ستاسو په وضعیت کې ددې د پایلو معلومات درکړی شي. که چیرته مرکه درسره ونشي، تاسو کولی شئ په لیکلې بڼه د مسول هیواد په اړه د معلوماتو غوښتنه وکړئ.

## زما د قضيې د سپړلو مسـول هيـواد د چاروکـو لخوا څنگـه ټـاکل کيږي؟

هغـه هيـواد چـې د پناهندگـی قضيـې د سـپړلو مسـوليت لـري، د مختلفـو دلايلـو لـه مخـې معلوميږي. دا دلايـل پـه قانـون کـې د اهميـت لـه مخـې ترتيـب شـوي دي. کـه چيرتـه يـو دليـل ستاسـو د درخواسـت سره اړيکـه ونلـري، بـل دليـل پـه نظـر کـې نيـول کيـږي.

نومـوړي دلايـل د لانـدې عواملـو سره اړيکـه لـري، چـې د اهميـت لـه مخـې ترتيب شوي دي:

- د کورنـۍ کـوم غـړی (ميـړه يـا ميرمـن، د 18 کلنـۍ څخه ښـکته ماشـومان) چـې د نړيوالـې سـاتنې اجـازه يـې ترلاسـه کـړې وي يـا د ډوبلـين پـه بـل کـوم هيـواد کـې پناه غوښـتونکي وي؛

**بنـاء مخکـې لـه دې چـې ستاسـو د درخواسـت پـه اړه لومـړی تصميـم ونيـول شي بايـد پـه ډوبلين هيوادونـو کـې د خپلوانـو او د کورنـۍ غـړو پـه اړه معلومـات ورکـړئ.** کـه چيرتـه هيلـه مـو درلـوده چـې د خپـل کورنـۍ لـه غـړي سره پـه يـو هيـواد کـې ميشـت شـی، نـو تاسـو او ستاسـو د کورنـۍ غـړي بايـد پـه ليکلـې بڼـه يـې ښـکاره کـړي.

- مخکـې لـه دې مـو د ډوبلـين د يـو بـل هيـواد ويـزه ياهـم د اسـتوګنې جواز ترلاسـه کړی وي؛
- د ډوبلـين پـه يـو بـل هيـواد کـې مـو د ګوتـې نښـه اخيسـتل شـوې وي (او د يـوروډاک پـه نـوم پـه اروپايـي ډيټابيـس کـې سـاتل شـوې وي)[1]؛
- داسـې شـواهد موجـود وي چـې د ډوبلـين کـوم هيـواد تـه يـا د کـوم هيـواد لـه لارې مـو سـفر کـړی وي، کـه څـه هـم د ګوتـې نښـه مـو نـه وي اخيسـتل شـوې.




**۱) پـه يـوروډاک نـور معلومـات د دې رسـالې پـه مخ ۸ کې دي « ما پـه اروپايـی اتحاديې کې د پنـاه غوښـتنه کـړې - کـوم هيـواد بـه زمـا غوښـتنه وڅيـړي؟».**

## په هغه صورت کې چې زما پاملرنه د بل چا په غاړه وي، یا د بل چا پاملرنه زما په غاړه وي، څه کیږي؟

که چیرته لاندې شرایط موجود وي، تاسو کولی شئ هغه هیواد ته ولاړ شئ چې ستاسو **مور، پلار، ماشوم، ورور، یا خور** ژوند کوي:

- دوی د ډوبلین په کوم هیواد کې قانوني استوګن وي؛
- یو له تاسې څخه امیندواره وي، یا نوی زیږیدلی ماشوم ولري، یا جدي ناروغه وي، شدید معیوبیت ولري، او یا هم ډیر سپین ږیری وي؛
- یو له تاسې څخه د مقابل لوري مرستې ته اړتیا ولري، او مقابل لوری هم د مرستې وړتیا ولري.

هغه هیواد چې ستاسو ماشوم، ورور- خور، یا مور پلار پکې اوسیږي، باید په عادي توګه ستاسو د قضیې سپړلو مسولیت په دې شرط په غاړه واخلي چې ستاسو د کورنۍ اړیکې ستاسو په اصلي هیواد کې موجودې وي. د دواړو لورو څخه غوښتل کیږي چې په لیکلې بڼه د یوځای کیدلو سره خپله خوښه ثرګنده کړي.

تاسو کولی شی د دې موقع څخه په هغه صورت کې استفاده وکړئ چې کورنۍ یا خپلوان مو په همدې یا کوم بل هیواد کې میشت وي. که چیرته د کورنۍ غړي مو په کوم بل هیواد کې استوګن وي، باید هغه هیواد ته لاړ شی مګر په هغه صورت کې چې د ناروغۍ له کبله سفر کول درته ګران وي.

د دې احتمال سربیره، د خپل قضیې د سپړیدو په هر پړاو کې کولی شی د بشري، کورنۍ، یا کلتوري دلایلو لپاره د خپلو کورنیو سره د یوځای کیدو غوښتنه وکړی. د عذر له منل کیدلو څخه وروسته کولی شی هغه هیواد ته لاړ شی چې د کورنۍ غړي مو پکې اوسیږي. په داسې حالاتو کې کیدای شي ستاسو لیکلې موافقه واخیستل شي. دا هم مهمه ده چې که چیرته په دې هیواد یا کوم بل هیواد کې د خپل قضیې د سپړلو لپاره بشري دلایل ولری، نو له مونږ سره یې شریک کړی.

**د خپلولۍ، اړیکې، یا هم د بشري مسایلو د رابرسیره کیدو په وخت کې ستاسو څخه غوښتنه کیږي چې د خپلې قضیې د ملاتړ لپاره توضیحات یا ثبوت وړاندې کړی.**

## که چیرته زه ناروغ اوسم یا ځانګړي مرستو ته ضرورت ولرم نو بیا څه کیږي؟

د دې لپاره چې ستاسو د روغتیا سمه پاملرنه وشي، او د اړتیا وړ درمل درته چمتو شي باید چارواکو ته مخصوصاً په لاندې مواردو کې بشپړ معلومات ورکړی:

- د خپل معیوبیت په هکله،
- د امیندوارۍ په هکله،
- که کومه جدي ناروغي ولرئ،
- د ظلم، جنسي تیری یا د هر ډول رواني، فزیکی او جنسي تاوتریخوالي سره د مخ کیدو په صورت کې.

که چیرته ستاسو د طبي ستونزې له پوهیدو څخه وروسته تصمیم ونیسو چې یو بل هیواد ته باید واستول شئ، نو ستاسو د اجازې له اخیستلو څخه وروسته طبي معلومات مو له نوموړي هیواد سره شریکوو. که د معلوماتو له لیږد سره موافقه ونه کړئ مونږ هم تري لاس اخلو، خو دا کار ستاسو د قضیې مسول هیواد ته مو د استولو مخه نه نیسي. دا جمله په یاد ولرئ چې که یو بل هیواد ته مو د طبي معلوماتو د لیږلو سره موافقه و نکړئ نو دغه بل هیواد ستاسو د ناروغي یا ځانګړي اړتیاو په اړه اقدامات نشي کولی.

په یاد ولرئ چې ستاسو ټول طبي معلومات د داسې مسلکي کسانو لخوا چې د رازساتنې د اصولو څخه پیروي کوي، پټ ساتل کیږي.

## زما د درخواست د ارزولو مسول هیواد په څومره موده کې ټاکل کیږي؟ همدارنګه زما درخواست به په څومره موده کې معاینه شي؟

که د دې هیواد چارواکي تصمیم ونیسي چې د پناهندګی درخواست مو همدلته معاینه شي، نو د خپل درخواست د معاینې تر پایه پوري په همدې هیواد کې پاتې کیږئ.

## په هغه صورت کې چې يو بل، په کوم کې چې زه موجود يم د هغې څخه مختلف هيواد زما د درخواست مسوليت په غاړه واخلي، بيا څه پيښيږي؟

=که چيرته مونږ فکر وکړو چې يو بل هيواد بايد ستاسو درخواست معاينه کړي، نو له نوموړي هيواد څخه غوښتنه کوو چې د درخواست له نيټې څخه مو تر **3 مياشتو** پورې د معاينې مسوليت په غاړه واخلي.

که چيرته ستاسو د ګوتې د نښې له مخې معلومه شي چې يو بل هيواد ستاسو د قضيې مسوليت په غاړه لري، نو د هغه نيټې څخه چې د يوروډاک نه د ګوتې معلومات اخيستل شوي تر **2 مياشتو** پورې د دې هيواد څخه غوښتنه کوو چې د معاينې مسوليت په غاړه واخلي.

- که د ډوبلين ملکونو ته مو د پناه غوښتنې لومړی درخواست وي، او د ځينې دلايلو پر بنياد فکر وکړو چې د ډوبلين يو بل هيواد بايد ستاسو د پناهندګۍ قضيه بررسي کړي، د دې هيواد څخه غوښتنه کوو چې ستاسو د قضيې **«مسوليت په** غاړه واخلي».

هغه هيواد چې د مسوليت د منلو غوښتنه ترې کيږي، بايد د درخواست له اخيستلو څخه تر **2 مياشتو** پورې ځواب ورکړي. که چيرته په دې موده کې ځواب ورنکړي، نو په دې معنا ده چې ستاسو د قضيې مسوليت يې په غاړه اخيستی دی.

- که چيرته مخکې مو د ډوبلين په يو بل هيواد کې د پناهندګۍ غوښتنه کړې وي، د هغې هيواد څخه غوښتنه کوو چې «بيرته ستاسو د قضيې مسوليت په غاړه واخلي».

نوموړي هيواد بايد د درخواست ترلاسه کولو څخه تر **1 مياشتې** پورې، او که چيرته درخواست د يوروډاک د معلوماتو په اساس شوی وي نو تر **2 اوونيو** پورې ځواب ورکړي. که چيرته نوموړی هيواد په ټاکل شوي مهال ويش کې ځواب ورنکړي پدې معنا ده چې ستاسو د قضيې مسوليت او له بيرته تګ سره مو موافقه لري.

کـه چیرتـه پـه دې هیـواد کـې مـو د پناهندګـۍ غوښـتنه نـه وي کـړې او مخکینـی غوښـتنه مـو پـه یـو بـل هیـواد کـې د وروسـتی پریکـړې څخـه وروسـته رد شـوې وي، مونـږ کولـی شـو د نومـوړي هیـواد څخـه غوښـتنه وکـړو چـې بیرتـه ستاسـو د قضیـې مسـولیت پـه غـاړه واخـلي، یـا مـو خپـل اصـلي هیـواد تـه واسـتوو، یـا هـم د دایمـي اسـتوګنې یـا دریـم خونـدي هیـواد تـه مـو د لیږلـو تصمیـم ونیسـو

کله چـې یـو بـل هیـواد ستاسـو د قضیـې مسـولیت پـه غـاړه واخـلي، تاسـو تـه زمونـږ ددې پریکـړې اطـلاع درکـول کیـږي چـې:

- ستاسو د پناهندګۍ قضیه دلته نه بررسي کیږي او،
- مسول هیواد ته مو د استولو تصمیم لرو.

کله چـې یـو بـل هیـواد ستاسـو د قضیـې د سـپړلو مسـولیت پـه غـاړه اخـلي، تـر6 میاشـتو پـورې دې هیـواد تـه اسـتول کیـږی، او پـه هغـه صـورت کـې چـې د دې پریکـړې د بدلیـدو لپـاره پـه محکمـه کـې ادعـا وکـړې، او محکمـه پریکـړه وکـړي چـې بایـد هغـې هیـواد تـه واسـتول شي، نـو پـدې صـورت کـې د محکمـې د پریکـړې څخـه تـر6 میاشـتو پـورې مـو هلتـه اسـتوو. د چارواکـو څخـه د تیښـتې یـا د بنـدي کیـدو پـه صـورت کـې کیـدای شي دا مهـال ویـش نـور هـم وغزیـږي.

کـه چیرتـه د ډوبلیـن د کړنـلارو پـه اسـاس توقیـف شـی، نـو پـه دې صـورت کـې ټـاکل شـوي مـودې لنډیـږي (د لا زیاتـو معلوماتـو لپـاره د توقیـف ځانګـړی برخـه وګـورئ).

مسـول هیـواد لـه تاسـو سره د یـو پنـاه غوښـتونکی پـه توګـه چلنـد کـوي او د ټولـو اړونـدو حقونـو څخـه مـو برخمـن کـوي. کـه چیرتـه پـه دې هیـواد کـې مـو مخکـې درخواسـت نـه وي کـړی، لـه رسیدو سره سـم هلتـه فرصـت درکـول کیـږي چـې خپـل درخواسـت وسـپارئ.

## په هغه صورت کې چې یو بل هیواد ته له تلو سره موافقه ونلرم، څه کیږي؟

تاسو کولی شی د ډوبلین یو بل هیواد ته له تلو سره موافقه ونکړی. دې کار ته ‹استیناف› یا ‹بیاکتنه› وایي.

همدارنګه کولی شی خپل تګ د استیناف یا بیاکتنې د مودې لپاره وځنډوی.

د دې لیکنې په پای کې د هغو چارواکو د اړیکې تفصیلات شودل شوي چې د پریکړې سره د مخالفت په صورت کې خپله غوښتنه له دوی سره شریکولی شی.

کله چه تاسو د دولتی استازو او ادارو څخه رسمی فیصله اخلی، کولای شی چې د هغه فیصله پر خلاف تر څوارلسو ورځو پوری د ویلنیوس زون عالی ادرای محکمی ته استیناف شکایت ورکړی. ډیره مهمه ده چې خپل (استیناف یا بیاکتنه) په ټاکل شوې موده کې وسپاری.

تاسو ته د څوارلسو ورځو وخت ورکول کیږی چه د خپل واپس واستیدو کړنلاره واستنوی ترڅو چه ستاسو شکایت غور سره شنل کیږی ( دغه غوښتنلیک به تاسو باید خپل استیناف شکایت سره یوځای ورکړی). یوه محکمه به په لنډه موده کې دې غوښتنې په اړه فیصله وکړي. که چیرته ستاسو غوښتنه رد کړي، نو دلایل یې درته وړاندې کوي.

د دې کړنلارې تر پوره کیدو پورې قانوني مرسته، او د ضرورت په وخت کې ژبنیزه مرسته درته چمتو کیږي. قانوني مرسته دا معنا لري چې تاسو کولی شی ځانته وکیل ونیسی تر څو ستاسو اسناد ډک کړي او د محکمې په مخکې ستاسو عرایض وړاندې کړي.

که چیرته د دې مرستو مصارف نه شی ورکولی، په وړیا توګه یې ترلاسه کولی شی. د دې لیکنې په پای کې د هغه موسسو نومونه ذکر شوي دي چې کولی شي قانوني مرستې درته چمتو کړي.



©iStockphoto / Joe Gough

## آيا زه له توقيف سره مخ کېږم؟

د توقيف لپاره کيدای شي مختلف دلايل وي، خو د ډوبلين په کړنلاره کې تاسو يواځې هغه وخت له توقيف سره مخ کيږی چې زمونږ د چارواکو په اند تاسو د ډوبلين يو بل هيواد ته د تيښتې يا هم د ځان پټولو په هڅه کې اوسی.

## دا څه معنا لري؟

که چيرته چارواکي فکر وکړي چې ستاسو د تيښتې خطر زيات دی – د مثال په ډول مخکې مو کړی وي، يا هم د ډوبلين کړنلارې قانوني شرايطو ته غاړه نه ږدی، او داسې نور- دوی کولی شي د کړنلارې په هره مرحله کې تاسو توقيف کړي. کوم دلايل چې د هغې له مخې کيدای شي تاسو توقيف شی په قانون کې راغلي دي. د قانوني مواردو څخه پرته هيڅ دليل ستاسو د توقيف دليل نشي کيدای.

تاسو قانوني حق لری چې د توقيف دلايل په ليکلي بڼه وغواړی او يا هم د هغه لارو چارو په اړه معلومات وغواړی چې کولی شی د توقيف سره مقابله وکړی. همدارنگه که غواړی د توقيف د حکم سره مخالفت وکړی د قانونی مرستې حق لری.

که چيرته د ډوبلين په کړنلاره کې توقيف شی، نو د اقداماتو مهال ويش پداسې ډول دی:

- ستاسو د درخواست ترلاسه کولو څخه وروسته په **1 مياشت** کې د اړوند هيواد څخه غوښتنه کوو چې ستاسو د قضيې مسوليت په غاړه واخلي.
- اړوند هيواد بايد زمونږ د غوښتنې ترلاسه کولو څخه وروسته په **2 اونيو** کې خپل ځواب وليږي.
- د اړوند هيواد له منلو څخه وروسته په **6 اونيو** کې وراستول کيږی. که چيرته د انتقال له پريکړې سره مخالفت وکړی نو دا موده له هغه نيټې څخه شميرل کيږي چې اړوند چارواکي، يا محکمه ستاسو تگ نوموړي هيواد ته خوندي ارزوي.

که چيرته مونږ و نشو کړای په ټاکل شوې موده کې ستاسو درخواست

اړونـد هيـواد تـه ولېـږو او يـا هـم د لیږلـو تصمیـم عمـلي کـړو، نـو د ډوبلیـن د کړنـلارې پـه اسـاس ستاسـو د توقیـف مـوده پـای تـه رسـیږي. پـه داسـې حالاتـو کـې د عـادي شرايطـو مهـال ویـش پـه نظـر کـې نیـول کيـږي.

## کـوم شـخصي معلومـات چـې زه یـې وړانـدې کـوم، چیرتـه ځـي؟ څنګـه بايـد يقينـي شـم چـې نـاوړه اسـتفاده تـرې نـه کيـږي؟

د ډوبلیـن غـړي هیوادونـه کولـی شي چـې یواځـې د ډوبلیـن او یـوروډاک د مقرراتـو پـه اساس پـه ډوبلیـن کړنـلاره کـې د هغـې ډیټـا تبادلـه وکـړي کـوم چـې تاسـو هغـوی تـه وړانـدې کـوئ. د ډوبلیـن کړنـلارې پـه ټولـو پړاونـو کـې تاسـو حـق لـرئ د هغـه معلوماتـو د خونـدي سـاتلو غوښـتنه وکـړی چـې د خپـل ځـآن یـا هـم د کورنـی وضعیـت پـه اړه مـو ورکـوی. ستاسـو معلومـات یـوازې پـه هغـه مـواردو کـې کارول کيـږي چـې د قانـون لخـوا اجـازه ورکـړی شـوې وي.

تاسو لاندې موادو ته د لاسرسی حق لری:

- هغـه معلومـات چـې پـه تاسـو پـورې اړه لـري. کـه چیرتـه دا معلومـات، د یـوروډاک د معلوماتـو پـه شـمول، ناسـم ثبـت شـوي وي د اصلاح لپـاره یـې، او کـه غیـر قانـوني ثبـت شـوي وي د حـذف کولـو غوښـتنه وکـړئ؛
- کولـی شـی داسـې معلوماتـو تـه لاسرسي پیـدا کـړی چـې پـه شـخصي معلوماتـو کـې، د یـوروډاک پـه شـمول د اصلاحاتـو راوسـتل درتـه روښـانه کـوي. پـه دې کـې د باصلاحیتـه چاروالـو د اړیکـې شـمیرې چـې د ډوبلیـن کړنـلارې مسـولیت پـه غـاړه لـري، او د معلوماتـو د سـاتنې مـلي اداري د چاروالـو د اړيکـې شـمیرې شـامل دي.

که چیرته غواړی استیناف شکایت ورکړی نو ځان ته دسی مالی توان نه وینی چه دفاعی وکیل واخلی، نو دغو مراجعو ته اړیکی ټینګه کړی:

**د پناهنده ګی تو مهاجرت دفتر د کورنیو چارو وزارت تر لاندی**

پته: L. Sapiegos g. 1, 10312 ویلنیوس

تیلیفون: +370 5 271 7112

بریښنالیک: md.rastine@vrm.lt

ویب پاڼه: http://www.migracija.lt

BZ-01-14-066-PS-C

doi:10.2847/18795
ISBN 978-92-9243-144-0

European Commission

EASO

MIGRACIJOS DEPARTAMENTAS

Publications Office